محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۰۳/۰۹

# خدایه خیر!

زموږ وطن ته بيا مرګـــــــونه را روان دي
تاړاکـــــونه , تاراجـــــــونه را روان دي
خدايه خير کړې! بد خـــوبونه مي ليدلي
ډېر ناولي تعــــــــــبيرونه را روان دي
په ځلـــــوبېنت کاله دا تږي زموږ د وينو
اوبه نه ســـــول , تش جامونه را روان دي
په سازش , سازش مو بېخ و بنياد وخوت
اوس مــو يومخي قـــــبرونه را روان دي
ليدل کيږي نه , ښکالـــو ئې احساسيږي
چـــل و مِکـــــر و منترونه را روان دي
زړه مي شين دئ بيده قام مي نه ويښيږي
د مرګي درانه خـــــوبــــــونه را روان دي
چي زنديو ئې د قام غـــاړي ور شنې کړې
هــــــغه دار او تـــــــــــناوونه را روان دي
زه بيده , اولس بيده , ماحــــــول بيده دئ
ببړۍ ماته تـــــــوپانــــــــونه را روان دي
په (لاتقنطوا) د زړه ســـــــوده کـــــــومه
کنه , پوه چي سيلابـــــــــونه را روان دي




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ